Te Korowai Whetū
Social Cohesion

# د ټولنیز یووالي (Social cohesion) دبنسټیز راپور لنډیز

## Social Cohesion Guide

د ټولنیز یووالي (Social cohesion) د بنسټیز راپور لنډیز یو داسې راپور دی چې د نیوزیلنډ دAotearoa په سیمه کې د ټولنیز یووالي (Social cohesion) څرنګوالي د شته معلوماتو پر بنسټ څرګندوي. دا په راتلونکې کې د ټولنیز یووالي (Social cohesion) د څیړلو لپاره پیلامه کیدای شي.

زموږ د نیوزیلنډ پهAotearoa کې ټولنیز یووالي (Social cohesion) هغه وخت تر سترګو کیږي کله چې خلک یو بل سره په اړیکه کې شي او د ټراو حس احساس کړي، ټول سره راټول شي، په خپل منځ کې اشنا او یو د بل درناوی وکړي، په مساوي توګه ښکیل او په دولتي اونورو ادارو کې یو پر بل اعتماد ولري.

د ټولنیز یووالي (Social cohesion) د ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې د خلکو د اوسیدو، کار، ساتیریو او زدکړو ځایونه خوندي، ټول شموله او مرستندویه وي او همدارنګه د ټولنې سیستم او خدمتونه عادلانه او د هر ډول ستونزو او اړتیاوو ته د ځواب ویلو وړتیا ولري.

پهAotearoa سیمه کې د ټولنیز یووالي (Social cohesion) د څېړلو لپاره کومه ځانګړې لاره شتون نلرې، نو موږ باید د معلوماتو او ډیټا بیلا بیلې سرچینې وکاروو ترڅو پوهاوی ترلاسه کړو چې ټولنیز یووالي (Social cohesion) موږ ته واقعاً څه ډول ښکاري. موږ د ۲۰۱۶ او ۲۰۲۱ کلونو ترمنځ د معلوماتو اوسنۍ سرچینې وکارولې. په ټوله کې، د دغو سرچینود ټولنیز یووالي (Social cohesion) په اړه معلومات مثبت وو، مګر ځینې وختونه معلومات ډېر د ټولنیز یووالي (Social cohesion) پورې اړوندو پیچلو مسلو ته انعکاس نه ورکاوو مثلاً، هغه معلومات چې راټولېږي، تل د ټولنیز یووالي (Social cohesion) د ټولنې د کوچنیو ډولو د پوهاوي لپاره کارول کیدای نشي.

معلومات ښیي چې دAotearoa سیمې اوسیدونکي د لوړې کچې پیوستون، باور، ګډون او هوساینې خاوندان دي. مګر دا هم څرګندوي چې ټول اوسیدونکې ترې برخمن نه دي. مثلاً، د ماوري په ټراو معلومات ښیي چې چې دوی د کورنۍ او کلتور له لارې د لوړې کچې پیوستون لري، مګر په حکومت باندې د باور د ټیټې کچې او په تعلیم، کار او رایه ورکولو کې د لږ ګډون خاوندان دي.

سربیره پردې، معلومات دا هم په ډاګه کوي چې پهAotearoa کې تبعیض د ټولنیز یووالي (Social cohesion) پر وړاندې د اندیښنې وړ خنډ بلل کیږي. ځینې ډلو کې بیا د نورو په پرتله د تبعیض لوړه کچه تر سترګو کیږي. مثلا، بیا ځای پر ځای شوي خلک (پناه وړونکي)، د اسیا او ارام سمندرګي د ټاپوګانو میشته کډوال، یو کسیزه والدین او بې کاره خلک. ډېری خلکو په ورته وخت کې د تبعیض بیلا بیلې بڼې تجربه کړې، کومې چې د دوی منفي کړنو ته وده ورکوي. مثلا، ښځو او د رنګین کمان/رینبو ټولنو (LGBTQIA+) په ټولیز ډول د لوړې کچې تبعیض کړی دی، مګر په دې ډلو کې د خلکو لخوا د توکم او معلولیت او داسې نورو پر بنسټ تبعیض کم تر سترګو کیږي.

په پایله کې، معلومات ښیي چې په حکومت او عامه خدماتو کې د لوړ پوړو مشرتابه رولونه کیدای شي په توکمیز ډول ډېر متنوع وي. دا تنوع به پهAotearoa  کې د ټولنې جوړښت او انډول غوره منعکس کړي.

COVID-19  پهAotearoa  کې په ټولنیز یووالي (Social cohesion) باندې په مثبت او منفي دواړو لارو اغیزې ښندلې دي.  مثلا، ټولنې یو له بل سره یو ځای شوي ترڅو یو د بل ملاتړ وکړي، مګر له بلیخوا ډېرى خلک نه دي توانیدلي چې خپلې کورنۍ او ملګري مخامخ وګوري، او همدې د وبا ناروغۍ د فزیکي او رواني روغتیایي ستونزې ډېرې کړي دي. دCOVID-19  وبا نورې اغیزې لاهم پېښیدونکې دي.

Te Korowai Whetū
Social Cohesion